بِسمِ اللهِ الرَّحمنِ الرَّحِیم

د مولانا سعید افغاني د سولې او تفاهم، نشراتي ارګان

www.said-afghani.org

آزاده، ټولنیزه، علمي ، فرهنګي و نشراتي ارګان



Dr.Said Afghani

د مولانا سعید افغاني : آزاده ، ټولنیزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



صیام الدین « پسرلی »

د نشر نیټه : ۶ فبروری ۲۰۱۳ میلادی

# ننګرهار ولایتي شورا سره د مثبت بدلون ټولنې ناستې راپور





په ننګرهار کې مثبت بدلون ټولنې له خپلو موخو سره سم (چې له هرې ولایتي ادارې سره به له نږدې څخه ناستې کوي او په هماغه برخه کې به ستونزې ورسره شریکوي او د حل لپاره به یې ورته وړاندیزونه کوي) د روان ۱۳۹۱ل کال د سلواغې پر ۱۷مه نېټه، د سه شنبې په ورځ د ننګرهار ولایتي شورا له غړیو سره وکتل.

په دې ناسته کې د پوهنتون د استادانو په شمول د مثبت بدلون ټولنې پینځه ویشت سرلارو غړیو ګډون کړی و. د ناستې په پیل کې د ننګرهار پوهنتون استاد قاري محمد شاکر فاروقي له خوا د قرآن کریم څو مبارک ایتونه ولوستل شول، وروسته د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي استاد هجرت الله اختیار له ولایتي

شورا او د مثبت بدلون ټولنې له غړیو مننه وکړه چې دې ناستې ته خپل وخت وقف کړی دی.





مثبت بدلون ټولنې رئیس عبدالبصیر سباوون په خپل  وار د ولایتي شورا غړیو ته (مثبت بدلون ټولنه) وپېژندله، د ټولنې موخې یې ورته څرګندې کړې او دا یې ورته واضحه کړه چې له ننۍ ناستې څخه یې موخه څه ده. سباوون د ولایتي شورا نوي ټاکل شوي رئیسه پلاوي ته وویل ((موږ تاسې ته د نورو خلکو په څېر د مبارکۍ ګلان نه دي راوړي، بلکې په دې کاغذ کې درج اوولس (۱۷) وړاندیزونه مو درته د مبارکۍ د ګلانو پر ځای راوړي دي، موږ به وګورو چې په راروان کال کې زموږ دا  وړاندیزونه څومره عملي کېږي، که دا وړاندیزونه مو ومنل شول او عملي شول، نو د دې کال په پای کې به موږ تاسې ته بیا ګلان په غاړه کې واچوو))
عبدالبصیر سباوون د ولایتي شورا رئیسه پلاوي ته د ټولنې وړاندیزونه یو په یو له بېلګو سره تشریح کړل.

استاد قاري محمد شاکر د دې ناستې بل  ویناوال و، هغه ولایتي شورا ته په خپلو خبرو کې د ننګرهار پوهنتون ستونزې یادې کړې چې نه یې ولایتي اداره غم خوري، نه ولایتي شورا او نه هم د کابل مرکزي حکومت، استاد شاکر ووېل ((د ننګرهار والي د پوهنتون د داخلي سړکونو د جوړولو ژمنه درې ځله وکړه، زموږ د معلوماتو له مخې درې ځلې یې پیسې هم اخیستي دي، خو تر اوسه هم نه دي جوړ شوي)).  استاد شاکر د لیلیې د نویو ودانیو د کار په ټپه ودرېدنې یادونه هم وکړه او ویې ویل چې خدای خبر د هغې پیسې به چا په جیبونو کې اچولي وي. استاد شاکر ولایتي شورا ته ووېل چې تاسې د دې ستونزو پوښتنه ونه کړئ؛ نو څوک به یې کوي؟
د ننګرهار پوهنتون د اقتصاد پوهنځي استاد محمد صادق رهنما هم ولایتي شورا ته خپلې داخلي ستونزې مخې ته کېښودې او ویې ویل چې پښتانه متل کوي ((هر څه چې خراب شي، مالګه پرې اچول کېږي، خوکه مالګه خرابه شي، څه شی به پرې واچول شي؟)) استاد رهنما ولایتي شورا ته ووېل چې په ننګرهار

کې زیاتره ستونزې ځکه بې حله پاتي، چې د ولایتي شورا غړي په خپلوداخلي ا ختلافاتو کې مصروف دي.
په ننګرهار کې د ګلوبل رایټس ادارې ولایتي مسوول او مدافع وکیل سید خالد سادات هم په جلال آباد ښار کې د نامسووله وسله والو کسانو ګرځېدو ته اشاره وکړه او ولایتي شورا ته یې وویل چې هغوی ستاسې له عکسونو څخه ناوره ګټه اخلي، تاسې باید د دې ستونزې غم وخورئ.




په پای کې د مثبت بدلون ټولنې رئیس عبدالبصیر سباوون ولایتي شورا ته ډاډ ورکړ چې موږ په هره قانوني او روا مسئله کې ستاسې تر شا درېږو، که تاسې عملاً درک کړه چې پر ځینوستونزو ستاسو لاس نه دی بر، نو له ولسونو سره یې شریکې کړئ، ولسونه ستاسې ملاتړ کوي.
د دې ناستې په پای کې د ولایتي شورا مرستیال ډاکتر لال محمد دراني د مثبت بدلون ټولنې له غړیو څخه منته وکړه او ویې ویل چې موږ ته مو د لا زیات کار کولو او استقامت حوصله راکړه. ډاکتر دراني غوښتنه وکړه چې که تاسې او ستاسې په خبر نورې مدني ټولنې له موږ سره دغسې ناستې ولرې او په څنګ کې راسره ودرېږي، دا ټولې ستونزې به په ډېر کم وخت کې حل شي.
د ولایتي شورا په مقر کې دغې ناستې نږدې دوه ساعته دوام وکړ او د قاري محمد شاکر فاروقي پر دوعا پای ته ورسېده.

د ننګرهار ولایتي شورا ته د مثبت بدلون ټولنې وړاندیزونه او د پام وړ ټکي
مثبت بدلون ټولنه غواړي د ننګرهار د ولسونو د ستونزو په اړه د ولایتي شورا له رئیسه پلاوي او غړیو سره ناسته وکړي، له دغې ناستې څخه موخه دا نه ده چې د یادې ټولنې غړي دې د خپلو ځانونو لپاره د څه امتیاز غوښتونکي وي؛ بلکې د عامو خلکو حقه غوښتنو ته د ولایتي شورا د رئیسه پلاوي او غړیو پام راړوي. دغه ټولنه له ولایتي شورا څخه غواړي چې لاندې ټکیو ته پام وکړي.

۱- د ولایتي شورا محترم وکیلان دې له خپلمنځي اختلاف څخه لاس واخلي، ځکه دوی ولس د خپلو ستونزو د حل لپاره ټاکلي دي نه د شخصي عقدو او زور

ازمايلو لپاره، نور يو د بل په مقابل کې د ودرېدو پرځای سره يوه خوله شي او خپل مسوولیتونه دې په سمه بڼه پلي کړي.

۲- د ولايتي شورا دفعاليتونو د ښه سرته رسولو په موخه دې خپل لنډ مهالي او ږدمهالي کاري پلانونه جوړ کړي، د رسنيو له لارې دې يې له ولس سره شريک کړي او د هر فعاليت له ترسره کولو وروسته دې بېرته د رسنيو له لارې ولس ته راپور ورکړي.




۳- ولايتي شورا د ولايت په کچه د ولايتي ادارې د کارونو د نظارت او هغوی ته د مشورې ورکولو تر ټولو مهم ارګان دی، نو په دې خاطر بايده دې چې وکيل صاحبان خپلو دندو ته د قدر په سترګه و ګوري پر خپلې حاضرۍ پابندي وکړي.

٤- محترم وکيل صاحبان دې د قانون د تطبيق او د عدالت دتامين لپاره هڅې پياوړې کړي، ځکه دوی له قانون اګاه او خبر دي او بايد د قانون پر وړاندې مانع هم ونه ګرځي او نه له قانونه د سرغړوونکو ملاتړي اوسي.

٥- د خپلسرو وسله والو شتون او او د خلکو ګواښل په دې سيمه کې تر ټولو لويه ستونزه ده، د ولايت شورا محترم غړي دې تر خپله وسه هڅه وکړي چې خپل ساتونکي او منسوبين په خپل کنټرول او تر خپل نظارت لاندې ولري، همدارنګه د ځينو وکيلان صاحبانو له نوم او تصوير ځخه د بېځايه ګټه اخيستنې مخنيوی دې وشي.

٦- دا چې ولايتي شورا د ننګرهار د ټولو ولسونو شورا ده، نه يوازې د جلال آباد ښار د اوسېدونکو، نو زموږ وړانديز دا دی چې د ولايتي شورا غړي او کمېټې بايد د ولسواليو له قومي مشرانو، مخورو او ځوانانو سره ګډې ناستې وکړي، د هغوی ستونزې واوري او د حل په موخه يې اړونده چارواکي عملي ګام پورته کولو ته اړباسي، په ځانګړې توګه په امنيتي، تعليمي، قضايي او نورو برخو کې.

۷- د دې لپاره چې ولايتي شورا خپل مسوولیت هم ادا کړی وي او پر ولايتي ادارې يې ور نظارت او څآرنه هم کړې وې؛ نو زموږ وړانديز دا ی چې په اوونۍ کې د ولايتي ادارې يو رئيس د ولايتي شورا مجلس ته راوغوښتل شي او د ترسره کړيو چارو په اړه ترې راپور واخيستل شي.

۸- همدارنګه که په هره اوونۍ کې يوه د ولسواليو قومي مشرانو ته ځانګړې شي چې هغوی په ازادانه ډول له ولايتي شورا سره خپلې سيمه ييزې ستونزې شريکې کړي، په دې  کار سره به ولايتي شورا له ولسواليو سره تړلې پاتې شي.

۹- ولايتي شورا دې د ولس هرې مشروع غوښتنې ته مثبت ځواب ووايي، هغه که د هر چا په مقابل کې وي، ولايتي شورا د ولس له استازو جوړه ده؛  نه د حکومتي مسوولينو له استازو.





۱۰- که چېرې د ولايتي ادارې په ګډون هر چاروا‌کی د ولايتي شورا غوښتنې نه منې؛ نو ولايتي شورا دې خپل ولس ته مراجعه وکړي او خپل شاته دې د ودرېدو مرسته ترې وغواړي، په دې برخه کې تر هر چا لومړی موږ د ملاتړ ډاډ درکوو.

۱۱- اوسمهال زموږ عام او ساده ولس په عدلي او قضايي ارګانونو کې د خپلو دوسيو له امله هره ورځ ښځايه کړېږي، ځوربېږي او هېڅوک يې غږ نه اوري، زموږ وړانديز دا دی چې د ولايتي شورا اړونده کمېټه بايد په اوونۍ يا دوه اوونيو کې يو ځل له عدلي او قضايي ارګانونو سره ناستې ولري، همدا ناستې هغوی دې ته هڅوي چې د خلکو له ښځايه ځورونو څخه لاس واخلي او دوسيې يې په خپل وخت کې خلاصې او فيصله کړي. (همدا اوس ډېری زندانيان په زندانونو کې بې سرنوشته پراته دي، نه يې جرم معلوم دی او نه يې په اړوندو ادارو کې دوسيې شته).

۱۲- د څمکو غصب یو بل ناورین دی چې پر ننګرهار رانازل شوی دی، له ولایتي شورا څخه زموږ هیله او توقع دا ده چې د دې ناورین په مقابل کې په کلکه ودرېږي او خپلي ملي او تاریخي مسوولیت ادا کړي، که احیاناً د دوی غږ چا نه اورېده؛ نو ولسونو او مدني ټولنو ته دې مراجعه وکړي.

۱۳- که د ولایتي شورا غړي هره اوونۍ د ولایتي ادارې په مجلسونو کې ګډون وکړي او هلته مخامخ د ولسونو دستونزو یادونه وکړي، نو ولایتي اداره او مسوولین به پر دې پوه شي، چې د ننګرهار ولسونه هم د پوښتنې یو څوک لري.

۱٤- په ښآر کې نوي جوړېدونکي مارکېټونه باید وروسته له دې د موټرو پارکېنګونه ولري، همدې ستونزې له امله د ښار ګڼه ګوڼه ورځ تر بلې زیاتېږي او ترافیکي نظم کې ګډوډي مخ په پراخېدو ده، ولایتي شورا باید د ښاروالۍ کارونه هم تر جدي مراقبت او څارنې لاندې ونیسي.

۱٥- په ولایتي ادارو کې رشوت زیات شوی، اوس په ډېرې بې شرمۍ او سپین سترګۍ په هره اداره کې اخیستل کېږي، ولایتي شورا د فساد په مخنیوي کې له هر چا یو قدم مخکې وي.

۱٦- ولایتي شورا باید د خپل ولس د ستونزو د حل په موخه له ولایتي ادارې سره خپلې اړیکې جوړې کړي، که چیری ولایتي اداره د ولایتي شورا دقانوني او مشروع غوښتنو په مقابل کې ودریږي، باید مرکزي حکومت، ولسي جرګه او مشرانو جرګه په جریان کې واچول شي او تر هغې پرې فشار راوړل شي، تر څو یې غوښتنه ته غاړه کېږدي.

۱۷- پکار دا ده چې تر دې وروسته د ولایتي شورا کړنې او فعالیتونه د ولس د ستونزو په حلولو کې مخامخ اغېز ولري او ورسره ښکاره لاسته راوړنې ولري.

په هېواد کې د مثبت بدلون په هیله

بازګشت به صفحه اصلی – www.said-afghani.org